

# د WPHF د بشري حقونو ښځينه مدافعينو لپاره تمويل دريځه

Women's Peace & Humanitarian Fund
A United Nations & Civil Society Partnership

اګست 2023

## شالید

د بشري حقونو ښځينه مدافعينو (WHRDs) د جګړې په جريان کې او وروسته مهم رول لوبوي، د بشري حقونو - سولې او امنيت - پراختيا د ترړاو لپاره کار کوي، د ټولنې، ملت او نړۍ په کچه، ډيری وختونه د دوی ژوند له جدي خطر سره مخامخ وي. بيا هم اکثر د بشري حقونو د مدافعينو کار بې اعتباره او ناځرګند پاته کيږي.[1]

د بشري حقونو د ساتندويانو په اړه د اعلامي له تصويب څخه پنځه ويشت کاله راوروسته، او د ښځو، سولې او امنيت په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د لومړي پريکړه ليک څخه 23 کاله راوروسته (1325)، WHRDs له شخړو او کړکېچ څخه اغيزمنو شرايطو کې کار کوي که څه هم د تمويل فرصتونو ته محدود لاسرسی لري. په داسې حال کې چې د مدني ټولنې سازمانونه په نړيواله، سيمه ييزه او ملي کچه د بشري حقونو د مدافعينو په ساتنه کې رهبري کوي، د مالي سرچينو کمښت چې د دوی ساتنې او ګډون لپاره وقف شوي وي اکثرا د دوی هغه ورتيا محدودوي چې د WHRDs مخ په زياتيدونکي اړتياو ته په کافي ډول ځواب ووايي. د تمويل دا اړتياوې په ځانګړې توګه په داسې بيړنيو شرايطو کې فشار راوړي، چيرته چې WHRDs د يو بل سره تړلو بلها اړتياوو او ناامنيو سره مخامخ وي.

د ميرمنو، سولې او امنيت په اړه په خپل 2022 کلني راپور کې، د ملګرو ملتونو سرمنشي د WHRDs ساتنه د *"ټوليز اخلاقي مسؤليت"* په توګه تشريح کړه او له نړيوالې ټولنې يې وغوښتل چې د WHRDs، سوله جوړونکو، او د مدني ټولنې غړو لپاره خپل ملاتړ پياوړی کړي. د پام وړ، هغه په غړو هيوادونو غږ کوي چې *"د ښځو د بشري حقونو مدافعينو لپاره يو ورتيا ورکونکی چاپيريال چمتو کړي، د دوی کار او سازمانونو ته مادي او سياسي ملاتړ چمتو کړي، او د دوی په وړاندې د ځانګړو ګواښونو يا غچ اخيستنې مخنيوی وکړي او عبرګون ورته څرګند کړي." 3*

د ملګرو ملتونو د ښځو د سولې او بشردوستانه وجهي صندوق (WPHF) يو نړيوال پارټنرشپ يعني شراکت دی چې د ښځو د حقونو سازمانونو او د سولې جوړونکو لپاره مهم تمويل لپاره حرکت کوي او د هغو کيفيت لرونکو مداخلو ملاتړ کوي چې د جګړې د مخنيوي، کړکېچونو او بيړنيو حالتونو ته د غبرګونو ښودلو لپاره د ښځو ظرفيت لوړولو لپاره ډيزاين شوي وي، او د سولې رامينځته کولو له مهمو فرصتونو څخه کار اخلي. . د 2022 کال د جنورۍ په 18، WPHF په رسمي توګه د WHRDs لپاره خپله کړکۍ د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د لومړني پرانيستې بحث په حاشيه کې يې د WHRDs او سولې جوړونکو د ساتنې او ګډون په اړه پرانيستله.

## حقايق او شمېر

- په ټول جهان کې، د د بشري حقونو ښځينه مدافعينو په وروستيو کلونو کې په زياتيدونکې توګه په داسې بريدونو کې په نخښه شوي دي چې موخه يې د دوی د استازيتوب خاموش کول او په عامه ژوند کې له ګډون څخه منع کول دي.
- ښځې د نارينه وو په پرتله ډير احتمال لري چې د جنس او جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی هدف وګرځي او له زباني زورزياتي، ځارنې او آنلاين تاوتريخوالی سره مخ شي. پداسې حال کې چې ټول فعالين د بدنامۍ، سپکاوي کمپاينونو او آنلاين او آفلاين کړکجنې ويناوو سره مخامخ شوي دي، د بشري حقونو ښځينه مدافعينو په وړاندې بريدونه معمولا د دوی شخصي چلند، اخلاقي چلند، يا د دوی جنسي ژوند په نخښه کوي. هغه کسان چې د ښځو د حقونو پر فعالانو بريدونه کوي اکثراً له تبعيضي قوانينو څخه انګېزه اخلي
- په 2021 کې، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنر دفتر (OHCHR) په اتو جګړه ځپلو هيوادونو کې د بشري حقونو ښځينه مدافعينو، ژورناليستانو او ټرېډ يونينز يعني سوداګرو اتحاديو د وژنو 29 قضيې تاييد کړې. که څه هم، په پراخه کچه باور کيږي چې دا يې يو برخې کم شمير دی.4
- د UN Women لخوا سروې شوي معلومات څرګندوي چې نيژدې يو پر دريمه برخه هغه ميرمنې چې د 2021 د جنوري او 2022 تر مي پورې د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته معلومات ورکړي له غچ اخيستنې سره مخامخ شوې دي.
- په خپل 2022 کلني نړيوال تحليل کې، فرنټ لاين ډيفېنډرز، چې د WPHF WHRD وينډو يوه نادولتي موسسه، د خپل بشري حقونو د کار لپاره د 401 HRDs هدفي وژنې ثبت کړې، چې له هغو څخه 17٪ يې د ټرانسويمن (نرښځيانو) په ګډون مېرمنې پيژندل شوې دي.

[1] UN Special Rapporteur on the Situation of Human Rights Defenders (2023) *Success Through Perseverance and Solidarity: 25 Years of Achievement by Human Rights Defenders*, 52nd Session of the Human Rights Council, https://undocs.org/Home/Mobile?FinalSymbol=A%2FHRC%2F52%2F29&Language=E&DeviceType=Desktop&LangRequested=False
[2] UN Secretary-General (2022) *General on Women and Peace and Security*, *S/2022/740*, para 104 (b), https://wpsfocalpointsnetwork.org/wp-content/uploads/2022/10/N2261486.pdf
[3] ibid, paragraph 105 (a) [4] Ibid. [5] Ibid.
[6] Front Line Defenders (2022), *Global Analysis 2022*, https://www.frontlinedefenders.org/en/resource-publication/global-analysis-2022

## د ښځو د بشري حقونو مدافعينو لپاره د WPHF د تمويل وينډو

په شپږو ژبو کې په منظم ډول د غوښتنو په ترلاسه کولو سره، د WPHF WHRD وينډو يعني کړکۍ دوه ډوله ملاتړ وړاندې کوي:

- **سېفټی نېټ ( خوندي شبکه)** (د نادولتي مؤسسو شريکانو سره په ملګرتيا) د هغو WHRDs لپاره تر 10,000 امريکايي ډالرو پورې د بيړني خونديتوب مفتي مرستې چې خپل فعاليت له امله له خطر سره مخامخ وي. دا پشمول لنډ مهاله بې ځای کېدل، رواني يا قانوني ملاتړ، او د خونديتوب لګښتونه پوښي(د بېلګې په توګه، کمپيوټر، امنيتي کيمرې، امنيتي سافټوير).
- **ايډووکېسي ملاتړ** (د WPHF WHRD يونټ لخوا تنظيم شوی) چې په ملي، سيمه ايز يا نړيواله کچه په غونډو، پېښو، يا د پريکړه کولو پروسې کې د ګډون لپاره هغه لوژستيکي لګښتونه پوښي، کوم چې د بشري حقونو او سولې په پرمختګ کې مرسته کوي. WHRDs کولای شي په انفرادي توګه يا د پلاوي په توګه غوښتنه وکړي. په دغه ملاتړ کې الوتنې، ځمکني ترانسپورت، د ويزې فيس، هستوګنې، ژباړه، د پنځو کاري ورځو لپاره د ورځني ژوند تخصيص، او د معلوليت لرونکي WHRDs لپاره لاسرسی شامل دي).

### د ښځو د بشري حقونو مدافعينو لپاره د WPHF تمويل کړکۍ د چا ملاتړ کوي؟

- **جنسيت:** چې هرومرو ښځې وي، يا ځان ښځه پېژني
- **عمر:** چې 18 کلنه وي يا تر دا هم لويه وي
- **هېواد:** چې له يوې داسې سيمې څخه وي/هلته کار کوي چې له کړکېچ اغېزمنه وي
- **فعاليت:** په انفرادي توګه يا له نورو سره په ملګرتيا / ايتلاف کې، په رسمي يا غير رسمي توګه، په ځايي، ملي، سيمه ايز يا نړيواله کچه په سوله ايز ډول - د ښځو د حقونو په شمول - د بشري حقونو د ودې يا ساتنې لپاره کار وکړي.

**ايډووکېسي سپورټ:**

**په راتلونکې کښې د ايډووکېسي کار:**

د ايډووکېسي په نوښت کې د ګډون لپاره د لوژستيکي ملاتړ په اړه داسې معلومات چمتو کوي چې د بشري حقونو يا سولې په اړه د هغې کار ته وده ورکوي.

په راتلونکو شپږو مياشتو کې به د فعاليت، غونډې يا پرېکړې کولو پروسه ترسره شي.

درخواست کم تر کمه شپږ اونۍ مخکښې بايد ورکول شي.

**سېفټي نېټ:**

**اخطارونه او خطرونه :**

هغې ته او / يا د هغې بسته ګانو (خپلوانو) لپاره ، د هغې د فعاليت له امله اوسني يا تير جدي امنيتي خطرونه ځرګندوي

او/يا

دا په ډاګه کوي چې خطرونه داسې دي يا داسې پاته شوي دي چې د بشري حقونو او سولې په دفاع کې د هغې د ګډون د دوام ورتيا له ګواښ سره *مخامخوي*.

## د WHRD وينډو اغېزه

د 2022 په سپتمبر کې له خپل فعاليت راهيسې، د WPHF WHRD کړکۍ د 22 هيوادونو څخه د **WHRDs 220** او د دوی د 553 وابسته ګانو سره مرسته کړې ده.

د WHRD لخوا ملاتړ شوې **34,2%** ځوانې ميرمنې دي چې عمرونه يې د 18 او 29 کلونو ترمنځ دي.

ايډووکېسي سپورټ د ګډونوالو لپاره فرصت برابر کړي چې خپل ارزښتناک نظرونه او سپارښتنې په هغو فورمونو يعني غونډو کې شريکې کړي کوم چې به دوی بل ځای ممکن د لاسرسي وړ نه ول. له دې څخه ځينو يې د لوړې کچې نړيوالو فورمونو ته لنډ معلومات ورکړي دي. د بېلګې په توګه، WHRD چې د 2022 په جون کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا ته معلومات ورکړل، نو هغه دا مرسته وکړه چې دا اداره وهڅوي چې يو پريکړه ليک تصويب کړي چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو حقونو د هغې په اجنډا کې لومړيتوب ورکول سي. لکه څنګه چې مهم دی، د سپتمبر په 2022 کې، د کانګو يو پلاوی چې په سيمه ايزه کچه د ښځو حقونو ته وده ورکوي د ټول شموله بشردوستانه غبرګون په اړه په ملي کچه ورکشاپ کې د ګډون لپاره ملاتړ ورسره شوی و، چې د ورکشاپ په پايله کې د جندر يعني جنسيت په اړه د دريو وړانديزونو شاملولو لامل شو.

سېفټي نېټ فنډونه په اصل کې د ژوندژواک، بيابسيا کولو او رواني روغتيا ملاتړ لپاره کارول شوي دي. د WHRDs سره د امنيت او محافظت، تجهيزاتو، سفر، او قانوني مرستې کې لړ ملاتړ شوی دی. پداسې حال کې چې غوښتنې بېلابېلې وې، وينډو کړکۍ ښودلې چې دا د دې ځو اړخيزو اړتياو پوره کولو لپاره کافي انعطاف لرونکې ده. د تمويل بېړنۍ تشې ته په ځواب کې، هغې د دې ميرمنو ساتنه او ملاتړ کې مرسته کړې ده چې د نړۍ په ډېرو ننګونکو او ګواښونکو شرايطو کې خپل فعاليت ته دوام ورکړي.

په ټوله کې، د عملياتو په لومړيو مياشتو کې، د غوښتنليکونو زيات حجم د دغه ډول ملاتړ اړتيا په ګوته کړې ده. د ګډون کوونکو تر منځ د شخصي هويت او موضوعي کاري پروفايلونو تنوع ځرګندوي چې وينډو يو لړ متقابل ليدونکو ته د رسېدګې وړتيا تابتوي. ايډووکېسي سپورټ ګډونوالو تر مينځ د ملاتړ وروسته د نامعلومې سروې څخه فيډبيک يا غبرګون سريېره پردې د هغې د نوې ميکانيزم ارزښت جتوي.

د WPHF WHRD وينډو ويبسايټ ته ورشئ:
https://wphfund.org/whrds/

### د WPHF په اړه

د هغو سيمه ايزو او د مدني ټولنې بنسټونو ته مهم ملاتړ کوي چې د ښځو، سولې او امنيت او WPHFد ملګرو ملتونو د ښځو د سولې او بشردوستانه وجهي صندوق يو انعطاف منونکی او چټک تمويل ميکانيزم دی چې د هغو کيفيي مداخلو مرسته کوي کومې چې د ښځو ظرفيت لوړولو لپاره WPHFبشردوستانه کړنو په اړه کار کوي. ډيزاين شوې وي چې د جګړې مخه ونيسي، کړکېچونو او بيړنيو حالتونو ته غبرګون ووايي، او د سولې راوستلو مهم فرصتونه ترلاسه کړي. په 2016 کې له پيل کولو څخه په 41 هيوادونو کې د ښځو 930 سيمه ايز سازمانونه تمويل کړي دي کوم چې د ښځو سره د مرستې لپاره کار کوي چې کړکېچ ته غبرګون او تلپاتې سولې WPHFراهيسته، په 22 هيوادونو کې د 200 څخه د زياتو ښځو د بشري حقونو مدافعينو او د سولې راوستونکو ښځو ګډون او ساتنه ملاتړ کړې.WPHFلپاره يو ځواک وي. برسېره پردې،

Follow @wphfund on Twitter, Instagram and Facebook.

WPHFund.org